**بسم الله الرحمن الرحيم**

## ټرمپ او مودي د دوزخ په لوري لاس ترلاس نيولي روان دي

**خبر**

ټرمپ او د هند لومړي وزير نرندرامودي د دوشنبې په ورځ په هند کې د ۱۱۰۰۰۰کسانو په ګډون خپله ملګرتيا لاپسې پياوړې کړه. (سرچينه: ان بي سي خبر) ( Source: nbcnews)  سر

**تبصره**

يو څه چې د ټرمپ او مودي تر منځ ګډ ارزښت جوړوي، هغه له اسلام او مسلمانانو څخه د دوی نفرت دی. په ټوله نړی کې چې د مسلمانانو پر وړاندې سخت ظلمونه او جنايتونه کېږي، تر شا يې د دوی دواړو لاسونه حتمي وي. په ټوله کې د پورتنيو دواړو رهبرانو ملاتړ له يو بل څخه، د دوی د مقابلو ګټو پر اساس دی. د مودي لخوا د ټرمپ په څېر د يو نژادپال رهبر ستاينه کول، په حقيقت کې د دوی دوه مخيتوب په ډاګه کوي. په وروستيو اتو مياشتو کې د ټرمپ او مودي تر منځ دا پنځمه ليدنه ده.

مودي په کور دننه او کشمير کې پر مسلمانانو سخت ظلم ته دوام ورکړی او  په دريو همسايه هېوادونو کې يې د کفارو لپاره پر مسلمانانو د بريدکولو ظالمانه قانون جوړ کړی دی. هندوستان د تابعيت د تثبيت په قانون کې دويم ډېر نفوس لرونکي خلک (مسلمانان) له تابعيت اخيستلو څخه محروم کړل او دغه کړنه يې په طبيعي ډول له مسلمانانو سره تعصب ښکاره کوي. که چېرې تاسو او يا ستاسو نيکونو په ۱۹۴۷م کال په هندوستان کې ژوند کړی وی، نو دا خبره بيا په ښه ډول درته په ډاګه کېدله چې په هندوستان کې څنګه مسلمانان په ملي کچه د تذکرې له اخيستلو څخه بې برخې کېږي. د هندوستان له نفوس څخه خبرتيا او دغه وروسته پاتې کېدل به ډېر خلک د تذکرې له نه لرلو سره مخ کړي. د ټرمپ په امر مودي هغه چا ته د ګوجرات د اتل لقب ورکړ، چې د ګوجرات په قصاب يې شهرت درلود.

ټرمپ په دغه ليدنه کې له مودي څخه پر منښ کولو سربېره له هندوستان سره د ۳ بيليونه ډالرو په ارزښت دفاعي معامله هم وکړه. دغه دفاعي معامله به د هندوستان وسلوال ځواک نور هم پياوړی کړي، په دې معنا چې د هغه ځناور غاښونه به نور هم تېره کړي، چې له وړاندې د مسلمانانو په خېرولو بوخت دی. بل خوا ټرمپ له پاکستان څخه مننه کوي، ترڅو د باجوا-عمران رژيم همداسې مغرور وساتي او د کشمير له مسلمانانو سره له مرستې کولو سترګې پټې کړي.

له کلونو راهیسې د کشمیر مسلمانان د ازادۍ لپاره جګړه کوي، په داسې حال کې چې د پاکستان پوځ هسې لاپې ولې او له کفري هېوادونو سره یو ځای نظامي تمرینونه کوي. د فبروري په ۲۵مه د دوشنبې په ورځ هغه مهال ۴ کسان مړه او په لسګونو نور ژوبل شول، چې د ټرمپ د لیدنې پر خلاف یې لاریون وکړ. له مسلمانو لاریونوالو سره هڅې قانوني چلند ونشو او د پولیسو لخوا سخت ووهل شول. اسلامي امت باید اوسمهال په دې پوه شي چې د دوی اتحاد څومره اړین دی، ترڅو د اسلامي خلافت په تاسیس سره خپل حقونه خوندي کړي. مسلمانان په نړیواله کچه هر ډول ځورول کېږي او د دغو ټولو ستونزو یوازنۍ حللاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تګلاره د خلافت بیاځلي تاسیس دي.

﴿وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ اللّهُ وَاللّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾

[ال عمران:۵۴]

***ژباړه:*** *کفار پلانونه جوړوي او الله سبحانه وتعالی هم پلانونه جوړوي، خو الله سبحانه وتعالی ښه پلان جوړوونکی دی.*

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفترته

## لیکوال: اخلاق جهان